مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۱/۱۲/۱۱

درې لنډې کیسې

د جنګ څخه په انتباه اخیستو سره تعلیمي تربیوی

لنډه کیسه

نور نه غواړم چې جګړې ته لاړ شم او جګړه وکړم ،او دا نیت مې د دې د پاره نه دی ، چې د مرګ څخه ایرېږم ،او یا د خپل ښځې او ماشومانو سره د مینې له وجهې ده .

که رښتیا رانه وغواړې ، او رښتیا راباندی ووایې وروسته له دې چې د دښمن یو سر تیری مې ووژنه ، د هغه د جیبونو په پلټنه کې شوم ،او یو څو عجیب شیان مې پیدا کړل ،چې د هغو په لړ کې ، یو کاغذ مې بیاموند چې په وینو لړلی وو ،او پرې لیکلي وو (پلاره د هغې ورځې څخه چې تا یواځې پرې ایښی یمه ،هر سهار تر د لمر ډوبیدو پورې په وره کې تا ته سترګې په لاره ولاړ یم ،پلار جانه ! په خدای که دا وار بیا راوګرځې ،او بیا راشې ،تا کلک په غیږ کې نیسم ،او نور اجازه نه درکوم چې بیا لاړ شی) هماغه وو ، چې د وجدان غږ مې واورید ،او په دې پوه شوم ،چې ما څومره عظیمه ګناه او خطا کړې ده،

دا به تر څومره لمر خاته او لمر ډوبیدو پورې د پلار په انتظار سترګې په لاره پاتې شي ؟ د خدای لعنت دې پر جنګ وي ،هغه جنګ په تیره چې داسې یو نیازبین ماشوم ،د پلار د مهر او محبت غیږې نه بی نصیبه او محروم ګرځوی ،

اخیستنه د فیسبوک د ملګرو څخه
او ما خپله د پښتو ادب په اوړو کې اغږلی ده ، او د انتباهی کلیماتو په ګاڼه مې سمبال کړې .

»»

د جګړې نه په انتباه اخیستو سره تعلیمی تربیوی

د یوه جنګي سر تیری د پند نه ډکه یوه کیسه،

نن مجبوره شوم ، چې د دښمن په یوه سر تیری باندی ډز وکړم ،کله چې پرمځکه راوغوځیدی ،نو د خپل د ښځې نوم یې واخیست او څو ځلې یې ږغ وکړ ماریا ،ماریا او زما د سترګو وړاندی یې ساه ورکړه ، یوه غاړکی یې په غاړه کې ځړیدلې وه ، چې د یوې ښځې او یوی ماشومی عکس په کې وو ،او په قوی ګمان سره چې همدا ماریا وه ،د ده ماینه یا ښځه ،باور وکړه چې د ځانه څخه مې نور بد راغي ،او د جنګه څخه مې ډیره کرکه ، اګرکه ډیر ځله به ما کوښښ کاوه چې د دښمن خپه په نښه کړم .او هغه هم په دې منظور چې دښمن زما د تعقیب څخه لاس واخلي ،خپلې اوچتې انساني همدردۍ او زړه سوانده دا اجازه نه راکوله ،چې انسان ووژنم ،او دا ځما عادت وو، چې هر کله به مې دښمن د خپې له خوا ټپي کړ ، خو له بده مرغه ځرنګه چې ما د دې سر تیری خپه په نښه کړه ،هغه نا څاپه سر ټیټ کړ او مرمۍ د ده په سینه ولګیده ،اوس به نو د هغې دا وړه ماریا څومره د دې انتظار وباسي ،او د ده ماریا به څومره شالونه او ګرمی جامی اوبدی ،او پلوری تر څو خپله ګذاره پرې وکړي ، په دې تمه چې یوه ورځ به یې څښتن د جګړې څخه بیرته راوګرځي ، ماریا بیچاره به په دې هم نه پوهیږي ، چې د ده څښتن د باران د لاندی

د آخری ځل له پاره د ده نوم په خوله واخیست ،د بشر بد ترینه فکر اوتصور جنګ دی ، ما په خپل ماشومتوب کې دا فکر کاوه ، چي مګر دا انسانان مجبور دی چی سره و جنګیږی ؟ او اوس ګورم هوکي ځیني وخت مجبور دي ،ځکه هغوی چي د جنګ دستور ورکوی ،د باران ،چقړو،خټو،یخنیو،ولږه ،او بی خوبیو د ستم لاندی نه دي ،او د مرمیو د بارانه څخه هم بچ دي ،او د ماریا د شنو سترګو د لیدو په آرمان نه مري .هغوی په خپل ګرمو کورونو کې په پستو فرشونواو بالښتونو ډډه لګولي وي ، او حلقه حلقه د سګروټو دودونه هوا ته غورځوی ،کاشکي می خپله سلاح یا وسله د هغه کسانو و سیني ته نیولي وای ، هغوی چي په خپل ګرمو کورونو کې ناست وي ، او ماشومان یي په لویو ،پراخوحوضونو کې لامبي او د نیا د ټولو نعمتونو څخه برخورداره وي ،او هغوی په ډیر قیمتي قلم ، لکه د ماریا په شان د زرګونوماریا ګانو د ښتنانو د مرګ حکم لاسلیک کوی .

»»»

تربیوی تعلیمی انتباهی

د جګړې نه په انتباه اخیستو سره

لمړي جهانی جګړې لکه یو ډیره لویه او وحشتناکه بیماري په شان ، په نړۍ سیوری غوړولی وو ،او ټول جهان یې نیولی وو. یو تن سر تیری د جګړې په ډګر کې ، چې د پوره احساس او د زړه درد خاوند وو ،په ډیره هوښیارۍ او تیز نظر دي ته یې پام واوښت ، چې د ده یو ګران ملګری ،د تورو خټو ډک یو ډند کې د ډوبیدو په حال کې دی ،او د ژوند او مرګ سره لاس او خپي وهی ، نو په ډیره مهربانۍ یې د مشر افسر څخه اجازه وغوښته چې د خپل دوست د نجات یا ژغورنی د پاره اجازه ورکړي ،او ولاړ شي ،او هغه د دې لوی خطر څخه وژغوري ، مشر افسر ورته وویل: که غواړې لاړ شي ولاړ شه درته اجازه ده ،ولي د دي فکر دې هم کړی چي ارزښت یې لري او که نه ؟ ستا دوست احتمالأ شاید مړ شوي وي ،او ممکن ته خپل خوږ ژوند په خطر کې واچوئ ! د مشر خبرو په دې هکله ورباندی تأثیر ونه کړ، او سر تیری د خپل دوست د ژغورنۍ د باره ورغی ،او په ډیر یو معجزی په شکل یې ،خپل ملګری د دې خطرناکه ډنډ څخه راویست ،او په خپلو اوږو یې تر عسکری قشلي یا محله پوري راورسوی ،د سر تیری مشر ورته ورغی ،او هغه سرتیری چې په ډنډ کې غوزیدلی وو هغه یې معاینه کړ ، او په ډیر مهربانۍ او زړه سواند یې ،خپل سر تیري ته وکتل ،او وي ویل : ما تا ته وویل چې دا ممکنه ده چي د دې ارښت ونه لري ،ستا دوست مړ شوي ! او ستا په بدن کې هم زخمونه لیدل کیږي ،سر تیری وویل : صاحبه ! ارزښت یې درلوده ،د سر تیري مشر افسر وویل :منظور دې څه دی دا چې وایي چې ارزښت یې درلوده ،کولای شئ؟ دا راته ووایي؟سر تیری وویل بلی قربان:ارزښت یې درلوده ،کله چي زه ده ته ورسیدم دا تر هغه مهال پوري لا ژوندی وو ، نو پر ما یې ږغ وکړ چې جیمه! زه ښه په دې پو هیدم چې ته به زما مرستي ته راځې !!!

)د دې کیسی انتباهی اړخ دا دی چې ،هغه سر تیری چې د مرګ او ژوند سره یې لاس او خپی وهلي د انتطار سترګي د جیمز په لور وي ، او د جیمز د زړه له کومی دا انسانی ترحم یې درک کړی وو ،او دا چې ورته وایي :چې جیمه! زه پوهیدم چې ته به زما د ژغورنۍ د پاره راځي ،یو خواته که د جنګ څخه کرکه او نفرت ښیي د بلي خوا د پوهی او معرفت خاوندانو ته دا پیام لري چې سر تیری ته جیم د نجات یو فرشته وه ،چې ده ته په سر وخت ورسیده ،او جیمز تر ابده د ده په ذهن کې پاتي شو ،د یو فدا کار او د نجات د پرښتي په لباس او نقش کې ، اګر که دې سر تیری د (جیمز) ملګري سا ورکړې وه، ،(نو په کار ده چې په ذهنونو او زړونوکې، لکه د نجات پرښتي داسي یادګارونه پریودو ، (

لنډه کیسه ژباړه د فیسبوک د ملګرو څخه په اخیستنه او د پښتو ساده ادب په اوړو کښي اغږلي

ژباړن : سید عبید الله نادر